**لندن پل؛ د موټر او چاړو له بریدونو وروسته مرګژوبله**
(ژباړه)




**خبر:**
بریدګرو د لندن پله په سیمه کې یو موټر (وین) پر پلیو کسانو ور وګرځاوه او وروسته یې پر خلکو د چاړو ګوزارونه پیل کړل، چې په پایله کې د انګلستان پولیسو په ډزو ووژل.
د انګلستان په پلازمېنه لندن کې کابو اووه کسان وروسته له هغه ووژل شول، چې یو موټر د پلیو خلکو په لوري ورغی، وروسته بریدګرو په خلکو د چاړو ګوزارونه وکړل، چې په پایله کې د پولیسو په ډزو ووژل. دغه برید د «بورو» مارکیټ سیمې ته څېرمه وشو. د تېرې شنبې په ورځ په یوه برید کې ۴۸ نور کسان هم ټپیان شول، د یادونې وړ ده، چې دا برید په هغه له ګڼه ګوڼې ډکه سیمه کې شوی، چې ډېر رسټورانټونه او د شراب څښلو ځایونه یې درلودل. (سرچینه الجزیره، ۲۰۱۷ د جون ۴مه )
**تبصره:**
له حنضله الخطیب څخه روایت دی:
**«كُنَّا مَعَ رَسُولِ اللَّه فِي غَزْوَةٍ فَرَأَى النَّاسَ مُجْتَمِعِينَ عَلَى شَيْءٍ فَبَعَثَ رَجُلاً، فَقَالَ:( انْظُرْ عَلَمَ اجْ تَمَعَ هَؤُلَاءِ؟) فَجَاءَ فَقَالَ: عَلَى امْرَأَةٍ قَتِيلٍ فَقَالَ: (مَا كَانَتْ هَذِهِ لِتُقَاتِلَ) قَالَ: وَعَلَى الْمُقَدِّمَةِ خَالِدُ بْنُ الْوَلِيدِ فَبَعَثَ رَجُلاً. فَقَالَ: (قُلْ لِخَالِدٍ لَا يَقْتُلَنَّ امْرَأَةً وَلَا عَسِيفًا)»** (سنن ابن ماجه)
*موږ یو ځای له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره جنګ ته ووتو او له یوې وژل شوې ښځې څخه، چې خلک پرې راټول وو، تېر شوو. دوی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته بلنه ورکړه او ویې ویل: دغه ښځه د جګړه کوونکو کسانو له ډلې څخه نه وه. وروسته رسول الله صلی الله علیه وسلم یوه سړي ته وویل: لاړ شه او خالد بن ولید ته ووایه، چې رسول الله درته امر کوي، چې ښځې او مزدوران مه وژنئ.*
دا خو هېڅ خبره نه ده چې استعمارګر زموږ په خاورو کې زموږ څومره وینه تویوي، په کومه کچه ظلم راباندې کوي، موږ استعمالوي، داسې حاکمان یې را ته ټاکلي چې په واقعیت کې د دوی ګوډاګیان دي، بې ګناه خلک وژني او زیان ورته رسوي.
په اسلام کې د ښځو او ماشومانو وژل منع دي. د رسول الله صلی الله علیه وسلم کړنلاره څرګنده وه؛ هغه د مبدایي مبارزې لاره غوره کړې وه. ده صلی الله علیه وسلم اسلامي فکره ولېږدوه، د حق په ویلو یې باطل ځپه... پرته له دې چې د قریشو ربړول او ځورول په نظر کې ونیسي. هغه صلی الله علیه وسلم غچ نه اخیسته، سره له دې چې مشرکینو سومیې رضي الله تعالی عنها او د هغې خاوند ته ډېره سخته شکنجه

ورکوله، چې وروسته په شهادت ورسېدل، مګر هغه صلی لله علیه وسلم بیا هم غچ وانه خیست. د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځینو اصحابو ته د اور په وسیله شکنجه ورکول کېده، بل به یې تر لویه ډبره لاندې کړ، مګر بیا هم مسلمانانو قریشو ته زیان ونه رساوه. د رسول صلی الله علیه وسلم مبارزه مبدایي وه، نه فزیکي او مادي.

اسلام د بشریت لپاره رحمت راوړی، نه جګړې او ربړنې. اسلام د دغو جګړو او ربړونو د له منځه وړلو لپاره راغلی. د دې لپاره راغلی چې د انسانانو چارې سمبالې کړي، د ضعیفانو ساتنه وکړي، پېتنځای ورته برابر کړي او پاملرنه ورته وکړي. حتی په جګړه کې هم اسلام د ښځو، ماشومانو، سپینږیرو او مزدورانو وژل منع کړي. موږ مېوه لرونکې ونې او یا هم د اوسېدو ځایونه له منځه نه شو وړلی. اسلام پر موږ دا نظم واجب ګرځولی.

مسلمانان او بشریت په ځمکه کې عدالت ته اړتیا لري، موږ اسلام ته اړتیا لرو. موږ باید د خپل نبي محمد صلی الله علیه وسلم تګلاره غوره کړو. هغه صلی الله علیه وسلم موږ ته هغه یوازېنۍ لاره ښودلې، چې الله سبحانه وتعالی ته د منلو وړ ده؛ هغه لاره چې موږ به د خاینانو د ظلم له تیارو څخه د اسلام د رحمت روښناییو ته راوباسي.

**محمد حمزه**

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**۱۴۳۸هـ ق، د رمضان ۱۳مه**

**۲۰۱۷م، د جون ۸ مه**

**ژباړه: علي عسکري**